# په ۲۰۱۰ کې بيوزلو ته له ۵ ميليون څخه د زياتو کاري ورځو چمتو کول

د ۲۰۱۰ د فبرورۍ لومړۍ نيټه، کابل افغانستان: د پروژو له لارې د ورځني کارونو چمتو کول له ډونرانو او افغانستان دولت سره مرسته کوي، يونوپس به هم مرسته وکړي څو د ۲۰۱۰ کال په ترڅ کې په ټول افغانستان کې بيوزلو ته ۲۰۰۰۰ دندې برابرې کړي.

که له افغانانو څخه پوښتنه وشي چې دم مهال د افغانستان په وړاندې تر ټولو ستره ننګونه کومه ده، د دوامدار معيشت نشتون به د هغوی د ستونزو د لست په سر کې ځای ولري. په هغه هيواد کې چې په سلو کې نږدې ۴۲ وګړي يې په لوږې او بيوزلۍ کې ژوند تيروي، دا د حيرانتيا کومه خبره نه ده.

د عايداتي فعاليتونو له چمتو کولو پرته به افغاني کورنۍ ونه توانيږي چې د خپل ژوندانه کچه ښه کړي، پياوړې ټولنه رامنځ ته کړي او په همدې ډول د اقتصادي لوړو ژورو په وړاندې زيات مقاومت پيدا کړي. له دې کبله د افغانستان دولت او نړيوالو ډونرانو ته د دې هيواد د بيوزلو وګړو لپاره د دوامدار شغل او معيشت چمتو کول له عمده او بنسټيزو لومړيتوبونو څخه شميرل کيږي.

له ۲۰۰۲ څخه راپديخوا، يونوپس او نورو شريکانو يې له افغانستان دولت سره په همکارۍ کې د "کليو ته د لاسرسي ملي پروګرام" (NRAP) له لارې له ۱۲ ميليون څخه زياتو کاري ورځو په برابرولو کې مرسته کړې، چې دغې پروګرام د افغانستان په ۳۴ ولايتونو کې کورنيو ته زيات عايد ورپه برخه کړی دی.

يونوپس به په ۲۰۱۰ کال کې له افغان دولت او نړيوالو ډونرانو سره په پراختيايي پروژو کې کار ته دوام ورکړي چې کولای شي د دې هيواد خلکو ته د کار زمينه چمتو کړي. د دې پروژو له لارې به نږدې ۲۰۰۰۰ کورنيو او د هغوی غړو ته د عايداتي فعاليتونو له لارې د کار زمينه چمتو شي چې په دې توګه لږ تر لږه ۸۰۰۰۰ تنه به د ښه ژوند خاوندان شي.

يونوپس به يوازې په سرپل او سمنګان ولايتونو کې د سويډن د پراختيايي مرستو اداری (SIDA) څخه ملاتړ وکړي څو د سړکونو د ساتنې کارونو له لارې د دې ولايتونو اوسيدونکو ته نږدې ۲۵۰۰۰۰ کاري ورځې برابرې کړي.

په همدې ډول يونوپس په پام کې لري څو د افغانستان دولت د سړکونو د ترميم او جوړولو له سراسري پروګرام او کليو ته د لاسرسي ملي پروګرام (NRAP) څخه چې د نړيوال بانک او د افغانستان صندوق لخوا تمويل کيږي، خپل ارزښت لرونکي ملاتړ ته دوام ورکړي. ۲۰۱۰ کال به په ټول هيواد کې د خلکو لپاره د نږدې ۵ ميليونه کاري ورځو شاهد وي.

په ۲۰۱۰ کال کې د نورو بنسټيزو پروژو تطبيق هم په پام کې نيول شوی چې د هغوی له لارې هم د کار موندلو کچه لوړيدای شي. يونوپس په پام کې لري چې په کندهار ولايت کې له جاپان دولت سره په

افغانانو ته د کار او شغل چمتو کول د نړیوالې ټولنې له لومړیتوبونو څخه شمیرل کیږي. له دې کبله په هغو پروژو کې چې یونوپس ښکیل دی، زموږ هڅه دا ده چې له ماشینونو او ثقیلو ابزارو څخه د کار اخیستلو پرتله، له انساني قوې څخه کار اخیستل په سیمه ییزو ټولنو کې د زیاتو شغلونو لامل کیږي، په داسې حال کې چې له تر سره شوي کار څخه ډاډمن کیدل او د پروژو د تطبیق لوړ کیفیت هم موږ ته زیات اهمیت لري.

د زیاتو معلوماتو لپاره، لطفاً له ښاغلي ټامي پیټرسن، د یونوپس عملیاتي مرکز سره په ایمیل آدرس: tommyp@unops.org یا وبسایټ: www.unops.org اړیکه ونیسئ.